# اشرف مفتون په حېث د رومانوي شاعر

# Ashraf Maftoon as a Romantic Poet

Akhter Ali [1], Noor Muhammad Danish Bettani [2]

Ashraf Maftoon contributed to a new trend, style and consciousness to art, leaving a long standing mark on the Modern Pashto poetry. As a romantic poet, his diction and style is unique and exclusive. His concept of love and revolt is emotional. He has given an individual touch to Modern Pashto romantic Poetry and introduced a new color or style. Before him no poet has given such a touch to Pashto romantic poetry. He has co-existed the beauty of art in his philosophical and romantic thoughts, showing his spontaneous flow of thoughts, his frankness and his revolt. Romance, truth, love, aesthetics, melody, revolt and music are the features of his poetry. In this paper the romantic poetry of Ashraf Maftoon has been highlighted.

اشرف مفتون په جدید پښتو شاعرۍ کښې هغه نوم دے چې خپل سبک ، خپل انداز ، خپل کلمات او خپل فکر لري . د خپل زړۀ خبرې ښخپله خلۀ کوي ، د منافقت او قدامت پرستۍ نه لرې تښتي .

په دے لیک کښې مونږ دا کوشش کړے دے چې د اشرف مفتون د شاعرۍ او په خصوصي توګه د هغۀ د رومانوي شاعرۍ هغه اړخونه راښکاره کړو کومې چې ددۀ د پېژندګلو وجې ګرځېدلې دي .پښتو یوه داسې ژبه ده چې د هر وخت او خپل عصر تقا ضې ئې په ښۀ زړۀ پورې انداز پوره کړې دي .او هم دا وجه ده چې لا تر اوسه ژوندۍ ده . هر قام، هره ژبه اوادب خپل کلتور،خپلې غوښتنې او خپل کړۀ وړۀ لري او د ادب په بابله ډېرو نقادانو او پوهانو خپل خپل خیالات څرګندکړي دي. زما په خیال ادب هغه لیک ته وئیلې شي چې په هغې کښې د خپل عصر د روح پوره پوره تصویر په داسې انداز راښکلے شوې وي چې کله هم هغه څوک په حال یا مستقبل کښې ګوري یا لولي نو هغۀ ته په هغې لیک یا فنپا ره کښې د هغې دور پوره او مکمل تصویر په نظر راشي.

---

1 Ph.D Research scholar, Pashto Academy, University of Peshawar
2 Assistant Prof Pashto Academy University of Peshawar

د ادب دوه لوې څانګې نثر او نظم دي او د شاعرۍ ټولو اصنافو ته نظم وئيلي شي د بيت نيکۀ نه راواخله تر دې دمه پورې د هر دور شا عرانو دخپل فکر ملغلرې شيندلې دي خو هر کله چې يو دور پسې بل دور راتلو نو دهغې دور ليکوالو د ما ضي فنپاروته دومره ښۀ نۀ کتل او دوي خپل خپل دور کښې د جدت په لور خپل کامونه پورته کولو هڅې کړې دي دا ځکه چې د خپل دور خپلې خپلې تقاضې او ضرورتونه وو . د ادب د پښتو لوستو ، آزاد خيالو او باشعوره ليکوالو ددغه تقاضوخيال ساتلې دې ، په خاص توګه د پښتو د جديد نظم په متوسطينو شاعرانو کښې عبدالغني خان ، ميا سيد رسول رسا، فضل حق شيدا ، اشرف مفتون او نور ګڼ شمېر شاعرانو خپله برخه کار ډېر په ښۀ توګه ادا کړے دے .

په دې شاعرانو کښې اشرف مفتون يو داسې تخليق کار دے چې د روماني شاعر په حيث منفرد لهجه او منفرد انداز لري . د عشق تصور ئې ډېر جذباتي، رنګين او روماني دے . د اشرف مفتون انداز رنګ و آهنګ د خپلو هم عصرو شاعرانو نه جدا دے . د خپل تخيل او مشاهدې په زور ځان له خپله تصوراتي دنيا جوړوي . په دے تصوراتي دنيا کښې د خپل آئيډيل "Ideal" هم په خپلې مرضۍ سره تصويرکشي کوي دا ځکه چې ددۀ خپله د رومان دنيا ده .

ښاغلے سيد رسول رسا صېب د اشرف مفتون د روماني شاعرۍ په اړه ليکي :

"د مفتون په شاعرۍ کښې د عصر روان روح پټ دے . د خپلو مخصوصو خويونو مېدان کښې بل حريف نۀ لري او ددۀ شاعري يو داسې جمالي نغمه ده چې د روماني کيف ، درد ، سوز او ساز نه علاوه د معصومانه جذباتو او ښکلي سرودونو نه ډکه پرته ده"١

مفتون د خپل دور ډېر اهم روماني شاعر دے ددۀ نظمونه نوي او ښاأسته دي د روايتي و اخلاقي ، مذهبي ، جنون زنځيرونه ماتوي . ددۀ د تخيل رهنمائي په عشق ده ، دے په خپل تخيل کښې د محبت هغې جهان ته لاړ شي چرته چې د ژوند مادي تصور تکليفونه هنګامې هېڅ هم نۀ وي يو داسې دنيا چې صرف د هغۀ په مرضۍ جوړه وي . جنسي ، جسماني او تخيلي مينه د هغۀ د ذهن په دنيا خوره وي . د جذباتو په طوفانونو کښې ورک شي د سماجي پابندو او روايتونو نه بغاوت

کوي ۰ جذباتي او تخیل پرست شاعر دے ۰ دے په خپل تصور کښې د سماجي او اجتماعي ژوند نفي کوي د شرابو په نشه کښې د يو بيلې دنيا د تصور ارمان کوي ۰ دۀ په شاعرۍ کښې معشوقه او محبوبه ژوندۍ ساتلې ده .لکه چې وائي :

کاتۀ په ترس د خیاله ، شاؤلې واؤلې هسکه غاړه
منګے بانه پټه د ستورو په رڼا راشه
رباب په غېږ ، شراب په لاس ، نرے پېزيب په پښو کښې
شينکي چمن ته نن د خيال په مشغولا راشه
لکه د شوخې ، ترياکې ، مستې ، ښکلې هوسۍ
د تصور خيال او خوبونو په صحرا راشه
رنګين محفل د شاعرۍ ته د شاعر نن زهرا
ښۀ د جوبن په ميئو مسته بې پروا راشه ۲

د روماني شاعرۍ دپاره څو اهمې تقاضې دي چې کله ددې تقاضو پوره پوره خيال ؤساتلې شي نو د روماني مکتب تخليق کار په خپل کار کښې کامياب تصور کېدے شي ۰ اشرف مفتون ددې تقاضو پوره پوره خيال ساتلے دے ۰ په دې تقاضو کښې اهمه تقاضه دا ده چې په احساس او اظهار به هېڅ قسمه پابندي نۀ وي د زړو رواياتو او قېدونو نه بغاوت او آزادي حاصلول د قوميت ،، مذهب او هر هغه قېد چې د محدود کېدو تصور پکښې شامل وي د هغې نه فرار او آزادي حاصلول د رومانويت وړومبۍ تقاضه ده ۰

هم په دغه نظر کښې د رومانويت تقاضه دا جوړېږي چې د رومانوي احساس خاوند به د قوم ، د نسل او مسلک نه بالا تر د کلهم انسانيت د آزادۍ ، ترقۍ ، آمنيت او خوشحالۍ احساس لري او په انسان به د هر قسمه جبر ، ظلم او قېد مخالفت کوي ۰ دريمه تقاضه دا ده چې رومانوي شاعر به د هر څۀ نه زيات حسن پرست وي ۰ د کائنات په هره ذره کښې حسن لټوي او د شعر په چوکاټ به ئې راولي ۰

که د مفتون صېب په شاعرۍ مونږ غور اوکړو نو ښۀ په آسانه دا وئيلې شو چې دۀ دغه ټولو تقاضو ته ښۀ پام لرنه کړې ده . خپل يو نظم "خيال ته" نه يو څو شعرونه وړاندې کولې شي .

لاړ شه هاغې ځائے ، هاغې دنيا ، هاغې جهان ته
هاغې نمر ، سپوږمۍ ، ستورو ، خلا ، مزکې ، آسمان ته
چرته چې مذهب د هر انسان انسانيت دے
خلقو سره مينه محبت لوے عبادت دے
چرته چې دعا ، ثناء ، تقاء کښې موسيقي ده
جوش ، وجد ، مستۍ کښې مسته مينه حقيقي ده
چرته چې د کيف او د سرور نه ساز جهان دے
لاړ شه هغې ځائے ته خياله هغه ستا جهان دے ۳

اشرف مفتون روماني شاعرۍ ته يو نوے انداز او نوے فني شعور ورکړے دے او دا نوے انداز به د جديدې شاعرۍ په ارتقاء کښې همېشه ځائے لري . ددۀ د شاعرۍ بې باکي جرات ، موسيقي ، رنګيني د هغه وخت د تهذيبي دائرو نه بهر د ښځې سره د خپل عشق او د مينې د آزادۍ خبرې ددې نه مخکښې په داسې انداز يو شاعر هم نۀ وي کړې .

د دوي ليکلے يو ښکلے او روماني نظم "خوب" کښې دۀ د مينې محبت ، وصال ساقي ، شراب ، صنم او غرض د يو ارماني روماني جذباتو ښکلے وختونه په دومره ښکلي انداز کښې ليکلے دي چې لوستونکي ته پکښې د رومان رنګونه برېښي . په ادب کښې رومانټيسزم د هغۀ په طبيعت ښۀ راغلے وۀ او هم دا ئې سُر ته پرېوتے وۀ او هغۀ ځان له يوه خيالي دنيا جوړه کړې وه کومه چې د حقيقت نه ډېره لرې وه يعنې د شاعر دنيا ، که دغې دنيا ته مونږه پام اوکړو نو مونږ ته د مفتون صېب د خيال او احساس اندازه ښۀ په آسانه لګېدے شي .

شړنګا شړنګ پېنزيب ئې پښو کښې
رنګارنګ لباس کښې پټه
دلفريب حسن لرونکے

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دلربا | | راته | | | مُسېږي |
| رعد، | ذول، | شغا، | | برېښنا | شي |
| په | شېبو | شېبو | | باران | شي |
| هم | برلې | شي | هم | سیلۍ | شي |
| په | غضب | فلک | | پرقېږي | ۴ |

د ورځې په رڼا کښې شاعر ټول وخت په مستۍ، مینې، محبت او رنګینو کښې تېر کړي او د نمر پرېوتو سره دغه ورمې ورو ورو ددۀ نه غائبېږي. د تیارې خورېدو سره ستوري په خپل ځائے پرقېدل شروع کړي خو ناګهانه اوریځ راتلل او سپوږمۍ ستوري پټېدل او د تندر پرېوتل د جدائې یو علامت شي.

او چې کله شاعر د دغې روماني او پُرکېف خوب نه راویښ شي نو د خپل خیال نه راوځي په دے ټول نظم کښې د جدید روماني نظم جدید رجحان علامت او تېښته ښکاري. پیغله سلمیٰ شاهین په خپل کتاب "جدید نظم په پښتو کښې" کښې د اشرف مفتون علامت نګارۍ په حقله داسې وائي.

> "شاعر د انسان د ژوند د دنیا رنګینۍ او د مرګ د جدائې ذکر هم کوي کوم چې دد جدید نظم د شلمې صدۍ شاعرانو په نظمونو کښې لیدے شي. د نظم "خوب" په اخر کښې د دغه علامت نګارۍ انداز د خوب نه راویښېدل د یو حقیقت مخ ته راتلل دي"۵

د مفتون صېب "خوب" د کالرج د (La Belle Dawe Sans Merci) نه په هېڅ کم نۀ دے. بلکې د مفتون صېب نظم د منظرکشۍ او تصویرکشۍ په حواله ډېر په ښۀ طریقه شاعرانه عکاسي کوي. ددے نظم ټوله واقعه ښکلا، زول، برېښنا، سیلۍ برلې، باد باران، وریځې هر څۀ باندې یقین کېدے شي. اشرف مفتون دا خیالي څیزونه په حقیقت کښې بدل کړي دي. په دے نظم کښې شاعر د ښاپېرو د دنیا خوب وینې او بیا په لق دق بیان کښې پرېښودے شي. د مرګ او ژوند دومره اوږد تصور او دجدائې دا فلسفه د ابدي جدائۍ خبره هم کېدے شي لکه چې وائي.

ناڅکهانه پکښې کړس شي
یو لوے تندر له وریځې
ما عاشق او معشوقې ته
عین په سر راؤغورزېږي
زهٔ د ویرې رابېدار شم
ګېر چاپېره چې نظر کړم
پاس په تاخ کښې د شړشمو
صرف ډیوه راته بلېږي
نهٔ رباب، نهٔ ترانه شته
نهٔ ساقي، نهٔ پېمانه شته
نهٔ بلبل، نهٔ آشیانه شته
نهٔ صنم راته خندېږي ۶

د روماني شاعرۍ دپاره فرار ، خوب او تخیل ضروري احساسات دي هر کله چې شاعر د خپلې وېنا او ماحول نه تنګ شي نو دے غواړي چې د خپل خیال او تصور جهان ساز کړي او چې څنګه ئې زړهٔ غواړي هم هاغه شان خپل دغه احساس او ارمان سر ته ؤرسوي .

اشرف مفتون د خیال دنیا په خپل ګڼ شمېر غزلونو ، رباعیانو او نظمونو کښې هم په خپله مرضۍ روښانه او ښائسته کړې ده او د حسن د اخستو په تکل کښې او د رومان په ارمان دنیا او د دنیاوي څیزونو د غوښتنې نه څنډه کوي .

زهٔ خو مال و متاع نهٔ غواړم ، رومان غواړم
بې فکري ، بې پرواي له سود و زیان غواړم
چې د حسن و حق په مئیو مې سېراب کړي
دغه دین دغه مذهب دغه ایمان غواړم ۷

د اشرف مفتون نظمونو کښې په خاص توګه د حسن و جمال فلسفه د خوند او رنګ سرور او خمار غېته دنيا لري . د ښځې وجود د وصال او فراق حسين او زړۀ راښکونکې عکسونه او تصور مازغو ته نازکې وربخښي . د مينې حسن و سرور داسې انداز اظهار د مفتون صېب نه وړاندې چا په داسې جرات کښې نۀ وۀ کړے څنګه چې اشرف مفتون کړے دے . شفيع صابر صېب د دوي په حقله داسې وائي .

> اشرف مفتون پشتو شعر وادب کے اختر شیرانی ہیں ان کا شمار پشتو کے رومانی شعرا کے صف اول میں ہوتا ہے۔ کلام میں صہبا کی سی مستی اور کلیوں کی سی تازگی ہے اور یوں مفتون دلوں پر حکمرانی کرتا دکھائی دیتا ہے ۸

د حسن او جذباتو په حقله د مفتون تصور د نورو شاعرانو نه جدا دے . هغه حسن د ناز ، مکيز او ادا نه ډک غواړي او جذبات هم د عشق ، مستۍ او رومان په سرور کښې ډوب ليدل غواړي او هم دا د ده د فن پېژندګلو ده .

د نولسمې صدۍ مغربي شاعرانو چې په انګريزۍ ژبه کښې په روماني دور (Romantic Period) کښې څنګه شاعري کړې ده او کوم مقام چې هغوي د دغې روماني شاعرۍ په زور ګټلے دے نو اشرف مفتون صېب ته د هغې نه په څو څو واره زيات داد ورکړے شوے دے . د اشرف مفتون صېب هر يو تخليق ځان له په خپل ځائے يو شاهکار دے د هغۀ شاعرۍ باندې تبصره کوونکو نقادانو شاعرانو او د ادب پوهانو دوي ته د حسن پرستۍ په وجه کيټس او د صنف نازک سره د مخاطبې په وجه اختر شېراني وئيلې دے .

د هغۀ شاعري مونږ ته دا ښائي چې مفتون د دغه دور د شاعرانو نه ډېر مخکښې تلے دے د مفتون شاعرې که يو طرف ته د عاشق د زړۀ د ارمانونو ترجماني کوي نو بل طرف ته دے په يو خيالي دنيا کښې او په جنتي معصومو خويونوکښې ددې دنيا د خلقو نه پټېدل غواړي او د ښائست حسن د عشق په رنګينو کښې د آسماني دنيا د دلفرېب منظرونو تر مېنځه د زړۀ د پټو ارمانونو پوره کېدل غواړي .

مفتون صېب د جان کيټس (John Keats) په شان د فطرت په رنګينو او ښکلاګانو کښې غرق د مينې محبت او ښکلا منظرونو ته د دوام ورکولو کښې هر وخت مصروف ښکاري او لکه د ويليم ورډز ورتهـ (William Wordsworth) د الله تعالیٰ د قدرتونو مزې اخلي او د کائنات هره يوه ذره ورته د خالق د معرفت ذريعه ښکاري . د شيلے (P.B Shelley) په شان اوريځ ، آسمان ، برېښنا ، باد و باران او د سيلۍ ستائل د دوي د اودهٔ انقلابي جذباتو عکاسي کوي او هغه رابېداروي . او هم دا د مفتون صېب د شاعرۍ اصل خوبي ده چې د قدرت د کارخانې ټول مظاهر images لکه اوريځ ، واؤرې ، د مارغانو چغار دے په ډېره زړهٔ راښکونکې ژبه ستائي .

پاس په غرونو دي اوريځې سپينې سپينې غورېدلې
که ننداڼې نه په لاره پاغونډې دي غورزېدلې
که په سپينو لوپټو کښې ښاپيرۍ دي راختلې
يا د واؤرو سپين ګټان دي که مرمرې نړېدلې
د قدرت نګارخانه ده زړهٔ راښکونکې منظرونه
مصور مصوري کړي که ساحر کړي سحرونه ۹

د مفتون صېب شاعري په عمومي توګه او په روماني شاعرۍ په خصوصي توګه تبصره کونکې ددهٔ مثال د بائرن (Byron) سره ورکوي او ددې غټه وجه د زړو رواياتو نه د دوي بغاوت دے .

د ځوانۍ ډول مستي ده بس مستي ده ، بس مستي ده
نهٔ ده ، نهٔ ده ځواني نهٔ ده چې شيخۍ کښې مبتلا شي
دا رنګ ژوند هډو ژوند نهٔ دے په اصلي معنو کښې مرګ دے
چې بې مئيو ، بې مينا شي ، چې بې جرمه بې ګناه شي
دا د عشق آخر پړاؤ دے ، عشق چې خپل عشق سره عشق کړي
دلته حسن او عشق يو شي ځان په ځان باندې شېدا شي ۱۰

دغه شان بل ځائے وائي :

د شېخ خیال کښې د مستۍ وجود عذاب دے
زما خیال کښې خو مستي اصلي ثواب دے
زۀ قائل یم د ضرر ، د ګناه نۀ یم
ماته دا جهان یو ښکلے رنګین خواب دے ۱۱

اشرف مفتون د مغربي ادیبانو او فلسفیانه افکارو په بابله ډېره مطالعه او پوهه لرله ځکه ئې په شاعرۍ کښې د رومانوي او فلسفیانه فکر مربوط امتزاج په نظر راځي . رومانویت او فلسفه که هر څو په جدا جدا جوازونو اړاېه لري خو د ادبي جدت ترمخه هغه ټول سوالونه کوم چې د انساني عقل او فهم نه ماوراء دي دغه سوالونه راپورته کول او د هغې مناسب حل لټول د دوي د رومانویت او فلسفې مشترکه خصلت اوګرځېدو . دا ځکه چې د پښتو ادب د رومانوي شاعرانو د شاعرۍ په عقلیت او جذبائیت دواړو باندې ولاړ دے . د دوي د رومانوي شاعرۍ په حقله سید رسول رسا لیکي :

"اشرف مفتون د پښتو ژبې په دې موجوده دور کښې بې شکه چې د روماني شاعرۍ بابا آدم دے . دۀ چې په خپله شاعرۍ کښې د ژوند کوم روماني فلسفه حیات پېش کړے ده دا صرف یو لوے شاعر کولے شي . هغه لوے شاعر چې تخیل خپل لري . احساس خپل لري ، د مستعار تخیل ، د مستعار مضمون او مستعار احساس حاجتمندنه وي" ۱۲

د رسا صېب ددې مقدمې سره دا ډېرو نقادانو دا خبره هم نظر انداز کېدے شي چې د اشرف مفتون رومانوي شاعري د مغرب نه متاثره ښکاري . دے کښې هېڅ شک نشته چې مفتون صېب د اسلامیه کالج نه د فلسفې طالب علم پاتې شوے دے . هغوي د مغربي علومو لوسته هم کړې ده ولې رومانوي شاعري تخلیق کول یو فطري عمل دے . دا سمه ده که یوخوا کالرج ، ورډز ورتھ ، کیټس او بائرن د لویډیز په ماحول کښې لوي شوي وو نو بل اړخ ته اشرف مفتون د اشنغر په خاؤره کښې خرپوسې کړې وې او هم ددے ماحول د مظاهرو او قدرتي ښکلاګانو ، وریځو او نورو خوندورو څیزونو ذکر ئې په خپله شاعرۍ کښې کړے دے . هغه په دې شاعرانه تخلیق کښې د

ماحول ، مذهب ، رسم و رواج او نورو پابندو پرواه نهٔ ده کړې او دا د رومانوي تخليق تقاضه هم ده او دا به هم اووېم چې مفتون په خپله شاعرۍ کښې د رومانويت سره سره کلاسيکيت هم شامل کړے دے او هم ددے دواړو په يو خاص تناسب او امتزاج يو نښهٔ فن تخليق کېدے شي . لکه چې وائي

که شرافت نهٔ وي د کور مکتب کښې
شريف به نهٔ شي په مونځونو باندې ۱۳

ددے شعر وړومبۍ مصرعه که يو خوا د کلاسيکيت ترجماني کړي نو بله مصرعه ئې د رومانويت نه ډکه ده او هم دغه د مفتون صېب ځانګړتيا ده . هغه د دواړو (کلاسيکيت او رومانويت) په امتزاج سره ډېرشعرونه تخليق کړي دي هغوي په روماني شاعرۍ کښې د ذائقې حس هم پاروے دے او ځاے په ځاے دغه حس مونږ ته محسوسېدے شي . اشرف مفتون د مختلفو حواسو دپاره چې کوم image (مظاهر) پکاروے دي د هغو يو څو نمونې دا دي .

چې شړنګ او شړونګ وي جام او جانان وي
وخت د خزان هم ماته سپړلے وي ۱۴

دغه شان بل ځاے وائي :

که د مستو پائلو شړنګ وې ، د شرابو ارزاني وې
احساسات به ليوني وې ، تلوسې به روماني وې ۱۵

په دے ذکر شوے شعرونو کښې مفتون صېب د سامعې ، يعنې د اورېدو حس پاروے دے .هم دغه رنګه بل ځاے د باصرې يعنې د ليدلوکتلو حس داسې پاروي .

نهٔ دا په سکښه وي نهٔ دا په سپينه وي
مينه چې مينه وي توره حسينه وي ۱۶

اشرف مفتون صېب شاعرۍ کښې خپل احساسات ، مشاهدات او تجربات پکارولي دي د هغهٔ د حسن تصور ډېر منفرد دے خپله یو مرکه کښې داسې وائي .

"حسن زما په خیال د روح غذا ده دې نه علاوه د فطرت په مطالعه او مشاهده کښې هم یو حسن او تسکین پروت دے نو ځکه زهٔ ځان ته حسن پرست او انسان پرست وایم"۱۷

اشرف مفتون د حسن و رومان پرستار دے او هر روماني شاعر د خپل تصور او خیال جهان لري او دغه رومانوي تصوراو خیالي جهان کښې خپل یو آئیډیل جوړوي او مفتون صېب خپل دغه آئیډیل "زهرا" په خپلو ګڼ شمېر غزلونو او نظمونو کښې ذکر کړې ده . "زهرا ته" نظم کښې وائي :

اے زما د خیال د فردوس خورې نازنینې
اے د روماني جهان میرمنې ماه جبینې
ما ستا د وصال شراب د خیال کاسه کښې څښلي دي
حورې مې حیرانې ستا دے حسن ته لیدلي دي ۱۸

بل ځائے د زهرا په راتلو خپل صبر و تحمل ته ګوتې په خلهٔ شي .

اے صبره چرته لاړې ، تحمله څهٔ شولې
ښکارېږي جوړې خوا ته مې زهرا راغلې ده ۱۹

د رومانویت غټې غټې تقاضې لکه فکري آزادي حسن پرستي ، او فطرت نګاري دا ټول د هغه په شاعرۍ کښې په مختلفو ځایونو کښې په نظر رائحي خو په دې هر څهٔ کښې زیات شوخ رنګ د فکري آزادۍ دے او هم دا هغه خوبي ده چې د هغهٔ رومانوي شاعرۍ له ئې خپل مقام ورکړے دے .

مینه، مستي ئې د ژوند اکسیر وهٔ
ګني مفتون به خراب تراب وے ۲۰

## ماخذونه


۱: خلیل همېش، پښتانه لیکوال ، ټوک ۲، چاپ کال ، مخ ۲۸۱

۲: مفتون اشرف ، د ژوند سندره ، چاپ کال ، ورومبي ځل ۱۹۵۲ ، اداره اشاعت پېښور ، مخ ۱۹

۳: مفتون اشرف ، سکونډارې ، چاپ کال ۱۹۹۸ ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ښار ، مخونه ۴۵،۴۶

۴: مفتون اشرف ، د شاعر دنیا ، اول چاپ ، کال ۱۹۴۷، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ښار ، مخونه ۹۶ ، ۹۷

۵: سلمٰی شاهین ، پروفیسر ، ډاکټر ، جدید نظم په پښتو کښې ، چاپ کال ۲۰۱۲ ، پښتو اکېډمي ، پېښور یونیورسټي ، مخ ۲۲۷

۶: مفتون اشرف ، د شاعر دنیا ، مخ ۱۰۴

۷: مفتون اشرف ، د ژوند سندره ، چاپ کال ۱۹۵۲، اداره اشاعت پېښور، مخ ۵۲

۸: صابر شفیع ، شخصیات سرحد ، ص ۹۹۷

۹: مفتون اشرف ، سکونډارې ، مخ ۱۲

۱۰: مفتون اشرف ، د ژوند سندره ، چاپ کال ۱۹۵۲ ، اداره اشاعت پېښور ، مخ ۷۲

۱۱: مفتون اشرف ، سکونډارې ،مخ ۱۳۲

۱۲: رسا ، سید رسول ، سکونډارې ، مقدمه ، چاپ کال اول ځل ۱۹۸۱ ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ښار، مخ ۷۹

۱۳: مفتون اشرف ، سکونډارې ، مخ ۴۰۱

۱۴: مفتون اشرف ، کاواکې ، چاپ کال اول ځل ۱۹۶۷ ، منظور عام پریس پشاور ، مخ ۴۰

۱۵: مفتون اشرف ، کاواکې ، مخ ۶۰

۱۶: مفتون اشرف ، کاواکې ، مخ ۴۵

۱۷: خلیل حنیف ډاکټر ، مخ په مخ ، چاپ کال سټمبر ۱۹۹۹ ، دانش کتب خانه پېښور

۱۸: مفتون اشرف ، د شاعر دنیا ، مخ ۳۴

۱۹: مفتون اشرف ، څرېکې ، چاپ کال ۱۹۵۳ ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ښار ، مخ ۲۷

۲۰: مفتون اشرف ، ترمې اوښکې ، چاپ کال ۱۹۹۶ ،اتحاد پریس پېښور ښار ، مخ ۴۵